شیرمحمد امیني ستانکزی

٢٠١۶/١١/٠٨

# کبرجن سړی د ملنګي په جامه کې



مازدیګر مهال یو مغرور او بې پروا سړی د ملنګي پر جامې له خپلې شینې ګوډې چې شاته یې اچولې وه، د کلي په لور روان شو، غریب ملنګ په دې فکر کې ؤ، چې څنګه وکولی شي، د خلکو له کورونه څخه یو څه اوړه او ډوډۍ ټوله او د خپلې کورنۍ سره لږ شانته ځانونه پرې ماړه کړي. خو د کلي ځوانان او مشران په خپلو کرنیزو کارونو باندې بوخت ؤ، د هرکور یوه یادوه تنه بیا د پردۍ مزدورۍ کوله دوی به تل ځانونه په یوکار بسیا کول، چې بی وزګاره ونه وسي او ځان لپاره د کور حلاله نفقه پیداکړي. خو دا غریب ملنګ چې څلور هسک او پیړ زامن یې درلود، د ډیرې لټۍ، تکبر او نازولیتوب په لمه کې بندي پاتې ؤ، سره له دې په ډیره زیاته اندازه کرنیزې ځمکې چې دغریب ملنګ پلار څخه دې ته پاتې وې، د خپل زامن په شان دا هم لټ اوتنبل انسان ؤ، خپلې ځمکې یې په خپلوانو باندې کرلې، ولې د دې غریب ملنګ لټې او مغروریت دې اندازې ته لوړ شو، چې بزګرانو به دې ته خپل حق وروړل، نو دې غریب ملنګ به هم ورځني نوکران د غلې او دانې لپاره نیول.

غریب ملنګ مست او هسک زامنوته به یې ویل، چې کوښښ وکړئ، ښه واغوندئ، پاک اوستره وګرزئ، تر څو د دې سیمې خلک ووایي، چې د پلانکي خان زامن څومره پاک دي، نو خلکو ته به خپل تربګنۍ له دې لارې وښایو.

د ملنګ زامن هم د خپل پلار خبروته غوږ نیول او پرې عمل یې کول. خو دورځو په تیریدو د غریب ملنګ د ژوند چارې مخ پرخرابیدو او اقتصادي وضعیت یې پر ختمیدول، زامنوته د تیر په شان دا نه ویل، چې ښه واغوندئ او ښه وګرزئ، بلکې برعکس ورته به یې ویل، چې ولاړ شي، خپلې ځمکو کې کرکیلې وکړئ، ځکه چې اوس بزګران ځواب شوي اوځمکې شاړې پاتې نشي.

ولې زامن یې بیا د خپل پلار پرخبرو ملنډې وهلې ورته یې وویل، چې پلارجانه! د خپل دریځ نه ولې واوښتې، خلک به مونږ ته څه وایي، چې د پلانکي خان زامن په خوا څنګه ؤ او اوس یې مزدورۍ او خوارۍ باندې لګیا دي؛ نه هیڅکه مونږ دا کار نه کوو اوکه ستا پر وس پوره وي ویې کړه.

غریب ملنګ خپلو زامنوته څه ونه ویل، ځان سره یې وویل، چې راځه د ځمکو خواته یو ځل سر ورووهم، چې په تنها دا ځمکې کولی شم او کنه.

غریب ملنګ چې خپل ځمکو لیدو ته ولاړ، ګوریې، چې پرځمکو نور کسان کار کوي. ده ورته وویل، تاسو دلته څه کوی او چا تاسو ته اجازه درکړې، چې په دې ځمکه کې کار وکړئ.

بزګرانو په کړس کړس خندا غریب ملنګ ته وویل، چې تاسو څوک یاستئ، آیا د دولت د مالیې مامور خو به نه یاستئ، چې پوښتنه کوئ، ملنګ ورته وویل: چې دا کرنیزې ځمکې خو زما دي. هغوی ورته وویل، چې دا ځمکه یو میاشت کیږي، چې موږ د پلانکي څخه واخیسته.

غریب ملنګ چې بیسواده ؤ، پخوانیو بزګرانو وربانديې د وخت په استفادې چانس تللي ؤ، جعلې قباله او اسنادونه یې د کلي ملکانو او شاهدانو باندې او هغوی ته یو څه حق په ورکولو جوړې او په دې غریب یې چې د مغروریت په کنده کې ژوند کاؤ مهر او لاسلیک په دې بهانه چې تاته مو دومره حق او حقوق درکړل، نو دې به هم هغه په پټه او مغرورانه ډول په کاغذونو باندې خپل د ګوتې مهر ولګول. د غریب ملنګ کلیوالو چې د دې زامن او دی به یې لیدل ډیر ورنه به یې نفرت کاؤ، ځکه د کلي ټول ځوانان په زده کړو، کارونو او د کلی د خیر په کړونو بوخت او دوی به په مغروریت ډول خلکو ته ځان ښودنه کوله.

ملنګ ناهیلې کور خواته روان شو، زامنو ته یې کیسه وکړه زامن یې وویل، چې پلار جانه شکرده، چې تاسو هم له ځمکو کرلو خلاصی پیدا کړل ته هم زموږ په خیر مست او بې پروا ګرزه؛ خدای مهربان دی، روزی الله تعالی به راکوي، خو خپل مغروریت به د کلي خلکو پر وړاندې نه ماتوو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ورځې نورې هم تیرې شوې؛ کوم خوراکي توکې چې د غریب ملنګ کورنۍ ورنه استفاده کوله هغه د هماغه بزګرانو خوارۍ ؤ، چې دې لټې کورنۍ ته رالیږلي ؤ. خو هرڅه د کور خلاص شول ولې بیا هم د غریب ملنګ زامن له خپل غرورېته مات نشول، نو کله چې په دوی ډیره تنګي او بې وسي زور وکړ، نو د غریب ملنګ زامنو خپل پلار ته وویل، چې نور خو نه کیږي، ورځه مونږ ته نور یو څه خوراکي توکې را پیدا کړه، چې ویې خورو، خیر دی ته سپین ږیرې شوې یې او موږ ځوانان یو تاته شرم نشته او که مونږ غریبي وکړو، موږ ته شرم او خلک به پرځان وخنده ؤ.

د دغو لټو بچیانو پلار د کلی په لور رهي شو، ځان سره یې فکر وکړ، که د خلکو دروازې وټکوم او ماته به خلک څه رانه کړي او دا خو بلکل ماسره نه ښایي، ولې د دې لپاره باید ځان د یو زیارت ملنګ جوړکړم او خلک به د زیارت په نوم ما ته څه راکړي، هماغه ؤ، چې شلیدلې پڼې، پیوندیني جامې او د سر لپاره بازار کې جوړ کړئ ویښتان او پر سر یې سور دسمال وتاړو او خپل غړ ته یې بدلون ورکړ، د کلي ټولې دروازې وغوښتې او د هریوو د کور دروازو تر شا ناري وهلې، چې د پلانکي بابا ملنګ ته څه خیر راوباسئ، ولې د کلي خلک هوښیار ؤ، غریب ملنګ ته یې ویل، چې د زیارت لپاره خیر او خیرات څه لپاره ټولوې، آیا بل کار نشته چې ته په دې نوم ځان او کورنۍ ته د سوال په توګه نفقه پیدا کوې، آیا ستا زامن نشته چې زمونږ د ماشومانو پر څیر کارونه وکړي.

غریب ملنګ وویل، چې دا خیرات په دې توګه ټولوم، چې پلانکی زیارت تود او یو میله پرې جوړه کړم.

کلیوالو ورته وویل، چې زیارت تودول او په زیارت کې میلې کول دا ټول حرام او بدعت دی، که ته غواړې چې ځان لپاره ثواب ترلاسه کړې، دا خیرات چې د زیارت په نوم یې ټولوې له دې ډیر نور ثوابي کارونه شته؛ ورشه هغه وکړه. جوماتونو، ښوونځیو، او بې وسو سره مرستې وکړه، چې له دې نه نور زیات ثواب نشته.

غریب ملنګ د ډیر ژور سوچ وروسته خلکوته مخ واړول، چې زه ملنګ نه یم زه هغه شخص یم، چې له پلار څخه راته په ډیره پیمانه ځمکې او جایدادونه پاتې او د خپل غروریت نه مې نه کرلې، کله چې ځوانۍ ته ورسیدم پلار به رابانډې په زوره ښوونځی او درس ویل، ولې ما به دپلار خبرې بې ګټې بللې چې د سواد آرمان اوس په دې کوم، چې ظالمانو راڅخه خپله ځمکه خرڅه کړه، د خپل په دوران کې زامنو ته به مې غلطې لارې چارې ښودلې، زامنوته به مې ویل، چې ښې جامې واغوندی او خپلو ته تربګني له دې لارې وښایي، خو افسوس اوس زما په حال او له ځان سره یې وویل: رښتیا چې لویانو ویلي دي، په روزي کبر وکړه، ولې په تربور کبر مه کړه.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ